پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۲/۰۴/۲۶

لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

یو سلونهه ویشتمه برخه

روژتی لنډۍ

نهمه برخه

ستا فرمایش و، ما پوره کړ
ګنې روژه کې اوبه چا چیکلي دینه

د روژې هسې نوم یادیږي
د دوی عادت دی هره ورځ کشکړپ کوینه

ته چې بیا، بیا مخې ته راغلي
اوس زه مشکوک شوم د روژې په ثوابونه

د روژتیو لنډیو د دې برخې له پاره مې دا نوې لنډۍ غوره کړې دي:

روژه د خدای له ډاره نیسم
د پیشړمي دوعا کې ستا نوم یادومه

ستا فرمایش و، ما پوره کړ
ګنې روژه کې اوبه چا چیکلي دینه

سمه روژه کې دې خراب کړم
چې دې پلو له مخه واخیست، مړ دې کړمه

د روژې هسې نوم یادیږي
د دوی عادت دی هره ورځ کشکړپ کوینه

د جانان دې ظلم ته ګوره
یوخوا روژه یم، بلخوا دا په مخ راځینه

لږ مراعات دې ورسره وي
د روژې څو ورځې دې پاتې بیا به ځینه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اوس له هر خوا نه پړي کش دي
يو خوا روژه بل خوا دا نوې څو قانونه

هر څه چې وي، دا به هم تېر شي
روژه خو ځي، ما ژوړوي ستا عادتونه

ما خو څه خط درکړی نه دی
چې په روژه کې به دې هم سلام کومه

ما د روژې ويلي نه وو
ما په بوزه کې د وعدې ويلي ونه

جانانه لږ نور صبر وکړه
چې د روژې ورځې پوره شوې بيا درځمه

ته چې بيا، بيا مخې ته راغلې
اوس زه مشکوک شوم د روژې په ثوابونه

ما درته وې نه دې منله
بيا ځلې راغلې د روژې ثواب مې ځينه

ثواب په صبر ګټل کيږي
روژې بې صبره کړم چې تښتي ثوابونه

غاړه غړۍ په روژه نه شي
غاړه غړۍ به په اختر کې بيا کوونه

په روژتيو زيری وکړئ
وخت رانږدې دی اوس به واوري اذانونه

بيا به روژه کې څه ونخورم
چې مې په ياد وي د طالب ذُرې بندونه

په خوشالۍ راځه جانانه
روژه شوه خلاصه او ازاد شول ديدنونه

خندا له خولې نه مروره
يو خوا روژه ده بل خوا نه شته دي کارونه

روژه به لاړه شي جانانه
ستا د جفا داغونه زړه کې ګرځومه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ